۰۴ لارښود

# د نوی تاسیس شوو تشبثتونو، پانګه اچوونکو او انفرادي اشخاصو لپاره د مالیاتو لارښود

منل | خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

## سریزه

ددغه لارښود موخه مالیه ورکوونکي سره په خپله د مالیې ارزوني او د ۱۳۸۸ لمریز کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د احکامو مطابق د مالیاتي مکلفیتونو څخه د اطاعت پذیرۍ په کار کې مرسته کول دي. دغه لارښود د هغو معمولو مالیاتو په اړه معلومات په بر کې نیسي چې احتمالا شرکتونه ورسره مخامخ کیږي ولې دا یو حقوقي او تخنیکي سند نه دی او باید د یو حقوقي ماخذ په توګه ورڅخه کار وانخیستل شي.

## د مالیه ورکوونکو اړوند اداري موضوع ګانې

د مالیه ورکوونکي د پیژندنې (تشخیصیه) نمبر (TIN) د مالیې وزارت د مالیاتو د اداري د ښه تنظیم او د مالیه ورکوونکي په واسطه د ورکړل شوو مالیاتو د صحیح مجرائی په موخه هر مالیه ورکوونکي ته د ځانګړي تشخیصیه نمبر د صدور پروګرام تطبیقوي. ټول انفرادي اشخاص، شرکتونه او مؤسسې چې د مالیاتو یا ګمرکي محصولاتو په ورکړه مکلف دی، د ټولنیزو، غیر انتفاعي او ښګینیزو مؤسسو په ګډون څوک چې د خپلو کارکوونکو د معاشونو او د کرایو له ورکړو څخه مالیه وضع کوي، د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمرې په اخیستلو مکلف دي. هغه اشخاص چې په بانک یا بلې مالي مؤسسه کې بانکي حساب لري او یا پرانیزي، هم د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نومرې په لرلو مکلف دي(۸۲ ماده). د ۱۳۸۷ لمریز کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون (۱۰۵ ماده) د هغو اشخاصو په اړه چې د موجه دلیل څخه پرته تشخیصیه نمبر لاسته نه وي راوړی، د اضافي مالیاتو او جریمو د ورکړې په اړه صراحت لري.

د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر کیدای شي د عوایدو لوی ریاست څخه په کابل کې، یا د هرات، قندهار، کندز، جلال آباد، هرات او کندز په ولایتونو کې په مستوفیتونو کې ترلاسه شي. د تشخیصیه نمبر د ایجاباتو او یا داچې څرنګه ترلاسه کیدای شي په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره یاد شوی دفتر ته مراجعه وکړئ. همداراز د تشخیصیه نمبر د غوښتنې فورم د انترنتي پاڼې www.mof.gov.af/tax څخه هم ترلاسه کیدای شي.

### یادونه

د مالیاتي لارښودونو او فورمو د لاسته راوړلو په بدل او د مالیاتو د ارزوني، ترلاسه کونې او د قانون د پلي کونې د پروسو په هیڅ مرحله کې مالیې وزارت یا د عوایدو ریاست ته فیس یا حق الزحمه نه ورکول کیږي.
که چیرې مالیه ورکوونکی خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي نو د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له مخې ورباندې جریمې وضع کیږي. دغه جریمه هغه وخت هم پلي کیږي چې حتی که د مالیاتي اظهارلیک په موده کې هیڅ ډول مالیه هم شتون ونه لري. ددې لپاره چې د جریمې څخه مخنیوی شوی وي، مالیه ورکوونکي باید حتی د مالیاتو د نه شتون په صورت کې هم خپل مالیاتي اظهارلیکونه وړاندې کړې او په کې وښایي چې د ورکړې وړ مالیې شتون نه لري.

## محرمیت

په مالیاتي اظهارلیک کي ورکړل شوي ټول معلومات او هغه معلومات چې د عوایدو د لوی ریاست لخوا د بررسۍ په جریان کي د مالیه ورکوونکي د دفترونو، یادداښتونو او یا درېیم شخص څخه ترلاسه کیږي، محرم دي او د ماليې وزرات څخه بهر به هیچا ته افشا نه کړل شي، مګر دا چې د مالیاتو قانون د (۹۱ ماده) اجازه ورکړي.

که چیرې مالیاتي کارکوونکی محرم معلومات افشا کړي او یا د خپل مستقیمې یا غیرمستقیمې ګټې په موخه د خپل موقف څخه په غیر قانوني ډول ناوړه ګټه واخلي، نو دغه شخص به د قانوني تعقیب په موخه لوي څارنوالۍ ته ورو پیژندل شي (۱۰۲ ماده).

## د اسنادو د ساتنې مکلفیت

د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې مالیاتو قانون د ۳۲ مادې له مخې مالیه ورکوونکی د اسنادو په چمتو کوونې او ساتنې مکلف دی.. د ماليې وړ عوایدو لرونکي ټول حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي تر څو ټول اسناد، دفاتر او د منقولو او غیر منقولو دارائي ګانو د معاملو صورتحسابونه چې د سم اظهارلیک د چمتو کوونې لپاره اړین دي، وساتي.

اسناد ورځني کتابونه، د شمیر کتابونه په دوه جلدو کې، رسیدونه، مالي صورتحسابونه، محاسباتي اسناد او د عایداتو باندې مالیاتو اسناد په بر کې نیسي. دغه اسناد باید د منبع اسنادو په واسطه تائید شي. اسناد په عمومي شکل د منبع سند د معلوماتو لنډیز وي. اصلي سندونه ښائي د پیرلو بلونه، د پلورلو رسیدونه، قراردادونه، ضمانت لیکونه، د ضمانتونو رسیدونه، او بانکي چکونه په بر کې ولري. همداراز د نغدو پیسو د ثبت پاڼې او د کریډت کارت رسیدونه، د پیرودلو فرمایشونه، د صادراتو او واردانو اسناد، د انتقال اسناد، الکترونیکي لیکونه (ایمیلونه) اود معاملو د تائید لپاره په کار وړل شوي عمومي لیکونه او مکتوبونه په دې اسنادو کې شاملیږي.
د عایداتو باندې مالیاتو، د حقیقي عوایدو د ټاکلو او د سمو رپوټونو د وړاندې کولو په موخه د ماليې وزارت صلاحیت لري ترڅو د مالیه ورکوونکي د اسنادو او دفترونو ډول او د محتویاتو څرنګوالی تعیین

### یادونه

ډیری سوداګریز فعالیتونه له دولتي ادارو څخه د سوداګریز فعالیت جواز په ترلاسه کولو مکلف دي. د صادر او وارد کوونکو لپاره د معلوماتو د ترلاسه کوونې لپاره په کابل کې د تجارت وزارت سره اړیکه ټینګه کړئ. د پانګه اچوونو په اړه د معلوماتو لپاره په افغانستان کې له پانګه اچوونې څخه د ملاتړ اداري (AISA) سره د بهرنیو چارو وزارت مخامخ سره اړیکه ونیسئ او یا په لاندې شمیرو اړیکې ټینګې کړئ:
+۹۳ / +۹۳ (۰) ۲۰۲۱۰ ۳۴۰۴
(۰) ۷۰۰ ۲۸۸ ۳۰۴
په افغانستان کې د پانګه اچوونې څخه د ملاتړ اداري ویبپاڼه: (http://www.aisa.org.af)

کړي. مالیه ورکوونکی په خپله کولای شي د خپلو کاري موخو او ډول سره مناسب د کتاب ساتنې سیستم غوره کړي. یاد شوی اسناد باید په واضح ډول عواید او لګښتونه (مصارف) منعکس کړي. اسناد باید:

- معتبر او بشپړ وي
- د مالیاتو او امتیازاتو د محاسبې لپاره صحیح اړین معلومات وړاندې کړي
- په اسنادو کې درج شوي معلومات باید د منبع سند لخوا تائید شي.
- باید اسناد لکه لیدنې کتنې، حسابونه، پر عایداتو باندې مالیاتو اظهارنامې، د موضوعي مالیاتو اظهارنامې، ځانګړې محاسباتي کاري پاڼې او اسناد چې د مکلفیتونو او مالیاتو په ټاکلو کې مرسته کوي، په بر کې ولري

یادوونه: هغه اشخاص چې تر یوه زیات تشبثونه پرمخ بیائي مکلف دی تر څو د خپل هر تشبث علیحده اسناد وساتي. تشبثونه باید اړوند اسناد چې د هغوی معاملات تائیدوي، وساتي. په ځانګړې توګه نړیوال شرکتونو باید د خپلو داخلي بیه ایښودنو د پالیسیو په اړه اسناد او همداراز د ځانګو او نمایندهګیو د ګټو د ویش په اړه اسناد وساتي.

## د محاسبې طریقه

سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونه باید خپل عواید د وروستۍ محاسبې د طریقې له لیارې چې عواید او مصارف د هغو د لاسته راوړنې پر مهال تشخیصوي، محاسبه کړي (۳۷ ماده).

## مالیاتي کال:

د مالیې کال عبارت دی له هجري لمریز کال څخه چې د وري له لومړۍ (د مارچ ۲۱) پیل او د کب په وروستنۍ ورځ (۲۰ مارچ) پای ته رسیږي (۳ ماده).

یو حکمي شخص (نه حقیقي شخص) چې غواړي د بیل مالي کال څخه ګټه واخلي، باید د مالیې د کال د بدلون دلیلونه په لیکلي ډول د مالیې وزارت ته څرګند کړي. د مالیې وزارت داسې دلایل یواځې په هغه صورت کې چې موجه وي، منظوروي. د مالیې وزارت حکمي شخص ته د غوښتنې د

منظوری په اړه خبر ورکوي او د بدل کال د پیل نیټه او د مالیاتو متوقعه نیټې چې وزارت ئې ټاکي، بنودل کیږي. د مالیې وزارت پریکړه به ډاډ ورکړي، چې نه مالیه ورکوونکی او نه د افغانستان حکومت د نورو مالیه ورکوونکو په پرتله ډیر ګټندوی دریځ اختیار نکړي، ترسره کیږي.

## د اسنادو موجودیت

لکه څرنګه چې وړاندې یادونه وشوه، د عایداتو باندې مالیاتو قانون د بشپړ پلي کولو په موخه د مالیې وزارت صلاحیت لري ترڅو د مالیه ورکوونکي اسناد بررسي کړي او کولای شي مالي معلومات، او سوداګریز او د تشبث معلومات له مالیه ورکوونکي او یا نورو اشخاصو څخه ترلاسه کړي (۹۱ ماده). نور اشخاص شرکا، مشتریان، تهیه کوونکي، مالي نهادونه او نور دولتي اداري او داسې نور په برکې نیسي.

## مالیات

## پر عایداتو باندې مالیات

شرکتونه (حکمی اشخاص):

د شرکتونو پر عایداتو باندې مالیه هغه مالیه ده چې د ۲۰٪ ثابتې فیصدي له مخې پر مالیې وړ خالص مفاد باندې تطبیقیږي. دمالیې وړ خالص مفاد د شرکت له مجموعي عوایدو څخه د عادي او ضروري لګښت (۲ فصل) د وضع کولو له لیارې محاسبه کیږي. دغه مالیه پر حکمي اشخاصو - پر سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو او نورو حقوقي نهادونو باندې تطبیقیږي.

انفرادی اشخاص (اشخاص حقیقی):

انفرادي اشخاص :

د میشتو حقیقي اشخاصو له معاش ،کرایې، د شرکتونو له ځانګړو عوایدو، حق الامتیاز او له داسې نورو عوایدو څخه ( له هرې سرچینې څخه یې چې لاس ته راوړي وي ) مالیه اخیستل کیږي چې تر هغوې پورې محدود نه وي.

غیر میشت اشخاص مکلف دي چې د خپلو عوایدو مالیه د افغانستان په داخل کې ورکړي. دکلنۍ مالیې نورمونه په لاندې ډول دي:

| هغه عواید چې له دغه مبلغ څخه زیات وي ( افغانۍ ) | هغه عواید چې له دغه مبلغ څخه زیات نه وي (افغانۍ) | مالیه |
|---|---|---|
| ۰ | ۶۰,۰۰۰ افغانی | ۰٪ |
| ۶۰,۰۰۰ افغانی | ۱۵۰,۰۰۰ افغانی | ۲٪ افغانیو څخه زیات څخه ۶۰,۰۰۰د |
| ۱۵۰,۰۰۰ افغانی | ۱,۲۰۰,۰۰۰ افغانی | ۱۸۰۰ + ۱۰٪ ۱۵۰,۰۰۰ |
| ۱,۲۰۰,۰۰۰ افغانی | | ۱۰۶۸۰۰+ د ۱۲۰۰۰۰۰ افغانیو نه زیات مبلغ څخه ۲۰٪ |

د انفرادي اشخاصو د مالیې دوه اړخونه یعنې پرمعاش باندې مالیه او د انفرادي متشبیثینو پر عایداتو باندې مالیه ممکن د تشبث او شرکت پر خاوندانو باندې اغیز ولري.

## پرمعاش باندې موضوعي مالیه

هغه آمرین او یا د شرکت خاوندان چې دوه او یا هم له څخه زیات کارکوونکي ولري ، مکلف دي چې د پورتني نورم مطابق د خپلو کارکوونکو له معاش او یا اجورې څخه مالیه وضع کړي(**۵۸** ماده). د هر شخص لپاره په میاشت کې **۵۰۰۰** افغانۍ معاف دي. البته معین تادیات، اضافه کاري، نغدي مکافات (لکه خواړه، ټرانسپورټ) او غیر نغدي تادیات په معاش او مزد کې راځي. پورتني مالیاتي نورمو نه د معاش د ورکړې د مراتبو له مخې ترتیب شوي دي ( میاشتنی ، اونیز او داسې نور) هغه کارکوونکي چې دمعاش او یا اجورې دیوې عایداتي سرچینې څخه پرته بله هیڅ عایداتي سرچینه نه لري او له خپل معاش څخه یې مالیه وضع کړې وي ، دکلني عایداتو د مالیاتي اظهارلیک په ترتیب او ورکړه باندې مکلف نه دي. ولې هغه کارکوونکي چې د معاش نه پرته نورې عایداتي سرچینې هم لري ، مکلف دي چې پرعایداتو باندې د مالیاتو اظهار لیک ترتیب او ارایه کړي.

استخدام کوونکي باید د راتلونکي میاشت تر لسمې نیټې پورې وضع کړل شوې مالیه دولت ته تحویل کړي (۲۰ ماده).

د وضع شوې مالیې تحویل په مستقیمه توګه د افغانستان بانک په نماینده ګیو کې د مناسبې فورمې څخه په ګټه اخیستلو سره ترسره کیږئ. استخدام کوونکی کارکوونکي او مالیې وزارت ته د کلني رپوټ په ورکولو مکلف دی (۲۱ ماده).

پرمعاش باندې د موضوعي مالیې په اړوند د زیاتومعلوماتو لپاره پنځم لاربښود، د انټرنټ پاڼې (www.mof.gov.af/tax) او د مالیې وزارت له مالیه ورکوونکو سره د همکارۍ څانګې ته مراجعه وکړۍ.

## خصوصی متشبثین

د آزاد سوداګریز فعالیت لروونکي انفرادي اشخاص د مالیاتي اظهارلیک په وړاندې کولو مکلف دي او دوئ کولی شي چې د مالیې وړ خالص عوایدو د محاسبې پر مهال د خپلو عوایدو څخه د سوداګریز فعالیت اړوند ټول عادي او اړین لښګت وضع کړي.

خصوصي متشبثین خپل مالیاتي اظهارلیکونه او مالیې د راتلونکي مالي کال د غبرګولي میاشت (دریمې میاشت) تر پایه پورې ارائه کړي.

## ر کرایې باندې موضوعي مالیه (۵۹ ماده)

دا مالیه د مؤجر د عایداتو باندې مالیاتو وړاندې ورکړه ده. حکمي او حقیقي اشخاص چې د خپل سوداګریزو فعالیتونو د پرمخ بیولو په موخه د کرایه اخیستل شوې جایداد څخه ګټه اخلي او هم پداسې حال کې چې کرایه په میاشت کې له ۱۰،۰۰۰ افغانیو لوړه وي، د ورکړې پر مهال د کرایې د پیسو څخه پر کرایې باندې مالیې د وضع کولو مکلفیت لري. وضع شوې مالیه په میاشت کې د ۱۰۰۰۰ څخه زیاتو او له ۱۰۰،۰۰۰ څخه کم یا مساوي کرایو باندې چې په میاشتنې شکل ورکول کیږي، ۱۰٪ وضع کیږي او هغه کرایې چې په میاشت کې له ۱۰۰،۰۰۰ څخه زیات وي د ۱۵٪ نورم تابع کیږي.

مؤجر یا د جایداد خاوند مکلفیت لري تر څو د کرایې له درکه خپل عواید د کلنۍ مالیاتي اظهارنامې له لیارې وښئي او د مالیې ټاکل شوې اندازه

د مالیاتي نورمونو سره سم د نهاد د نوعیت (حکمي شخصیت او حقیقي شخصیت) په پام کې نیولو سره په کلني ډول سره ورکړي. د کرایې له درکه د عواید د سرجمع څخه د جایداد د ساتنې لپاره ټول عادي او ضروري مصارف تفریق او د مصارفو په توګه مجرائي ورکول کیږي. هغه مالیه چې د مستاجر لخوا وضع او ورکول کیږي، د کلنیو پر عایداتو باندې مالیاتي اظهارلیک د وړاندې کولو پر مهال مجرائي ورکول کیږي.

د جایداد خاوندان د کرایې د اصل قرارداد نقلونه ارایې او همدارازخپلو مستاجرینو ته د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د ورکولو مسؤلیت لري.
معمولا مالیات په میاشتنی بڼه تحویلیږي. سره له دې، که چیرې د کرایې قرارداد د ورکړې بله نیټه (لکه هر دوه میاشتې یا درې میاشتې وروسته) تصریح کړي، د مالیې وضع او ورکړه باید د کرایې د قرارداد سره سم ترسره شي. وضع شوې مالیه د راتلونکې میاشت تر پنځه لسمې پورې د افغانستان بانک ته تحویل کړي شي.
پر مالیې باندې کرایې په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ ۰۱ لارښود ته مراجعه وکړئ. یاد شوی لارښود د مالیې وزارت د ویبپاڼې (http://www.ard.gov.af) او یا د مالیه ورکوونکو سره د مرستې له ټیم څخه ترلاسه کولای شئ.

## د انتفاعي معاملو مالیه (لسم فصل)

د هغو سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو او انفرادي اشخاصو چې ربعوار عواید یې له ۷۵۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات دي، د ټولو ناخالصو عوایدو څخه یې د انتفااعي معاملو ۲٪ مالیه اخیستل کیږي ، په استثنا د لاندې ځانګړو عوایدو چې د انتفاعي معاملو ۵٪ او ۱۰٪ مالیه ورباندې تطبیق کیږي.

همدارنګه د انتفاعي معاملو ۲٪ مالیه په وارداتو باندې هغه وخت او هغه ځای کې ګمرکي محصول ورکول کیږي، د ورکړې وړ ده. د انتفاعي معاملو دغه مالیه د ربعوارې انتفاعي مالیې لپاره د وړاندې ورکړې په توکه ګڼل کیږي.
د انتفاعي معاملو ۱۰٪ مالیه د لاندې خدمتونو د وړاندې کولو له درکه د لاسته راغلو ناخالصو عوایدو باندې تطبیق کیږي:

- نړیوال مسافر وړونکې هوایي خدمتونه
- مخابراتي خدمتونه، د انترنتي خدمتونو په ګډون

- د عالي خدمتونو وړاندې کوونکي هوټلونه
- د عالي خدمتونو وړاندې کوونکي رستورانونه

نور هوټلونه او رستورانونه چې ربعوار عواید یې **۷۵۰۰۰۰** افغانۍ یا له هغه زیات وي، کلپونه او سالونونه چیرته چې محفلونه نیول کیږي، د **۵٪** انتفاعي مالیې تابع دي.

د مالیې وړ عوایدو د ټاکلو په موخه د عوایدو له سرجمع څخه ورکړل شوې د انتفاعي معاملو مالیه د عایداتو باندې مالیاتو د تطبیق لپاره (**۲۷** ماده) د وضعې وړ دي.

د اظهارنامو ډکونه او تادیه د هجري لمریز کال پر بنسټ په ربعوار ډول ترسره کیږي (**۸۸** ماده). خو د مالیه ورکوونکي سره مالیه په میاشتني شکل سنجش کیږي. مالیه په افغانیو د افغانستان بانک کې د راتلونکې میاشتې تر **۱۵** نیټې پورې تادیه کیږي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره ۰۳ لاربښود، د انتفاعي معاملومالیه، ۱۲ لاربښود، هوائي شرکتونو (د مالیې وزارت ویبپاڼه http://www.ard.gov.af کې هم ترلاسه کیدای شي) مراجعه وکړئ او یا د سیمه ایز مستوفیتونو څخه ترلاسه کیدای شي.

## ثابتې مالیې (یوولسم فصل)

پر عایداتو باندې مالیاتو قانون ۱۱ ماده د عایداتو باندې مالیاتو پر ځای د ثابتې مالیې چې په سوداګریو او ځانګړو معاملاتو باندې تطبیقیږي، حکم کوي. په ځینې مواردو کې ثابته مالیه د عایداتو باندې مالیاتو وړاندې ورکړه ده خو عایداتو باندې مالیاتو او انتفاعي مالیې د اظهارنامو په اړه د مالیه ورکوونکي مکلفیت نه رفع کوي. لاندې ثابتې مالیې په ۱۱ فصل کې تشریح شوي دي:

- د وارده مالونو ثابته مالیه
- د سوداګرۍ په موخه د مالونو یا مسافرینو انتقال
- د قراردادیانو ثابته مالیه
- د نندارو (نمایشونو) ثابته مالیه
- په کوچینو سوداګریزو فعالیتونو باندې ثابته مالیه

### په وارداتو باندې ثابته مالیه (**۷۰** ماده)

هغه اشخاص چې اجناس واردوي د وارد شوو مالونو د ګمرکي محصول په

ګډون په ارزښت باندې د ثابتې مالیې پر ورکړه مکلف دي.

د سوداګریز جواز لرونکي اشخاص د ۲ په سلو کې مالیې تابع کیږي. د ورکړل شوې مالیې په بدل کې په هغه کال کې چې ثابته مالیه په کې ورکړل شوې، د عایداتو د مالیې د سنجش کولو پر مهال مجرایي ورکول کیږي. هغه اشخاص چې سوداګریز جواز نه لري د عایداتو د مالیې سربیره د ۳ په سلو کې مالیې تابع کیږي.

پر وارداتو باندې ثابته مالیه هغه وخت او هغه ځای کې ورکول کیږي چېرته چې د واردو شوو مالونو ګمرکي محصول په کې ورکول کیږي.

د سوداګریزو فعالیتونو په موخه د مالونو او مسافرینو په انتقال باندې ثابته مالیه (۷۱ ماده)

هغه اشخاص چې د سوداګریز فعالیت په موخه مسافرین یا مالونه انتقالوي، د خپلو نقلیه وسایطو د جواز د نوي کولو وړاندې د کلنۍ ثابتې مالیې په ورکړه مکلف دي.

## د قراردادیانو ثابته مالیه (۷۲ماده)

هغه اشخاص چې د فعالیت د جواز څخه پرته دولتي ادارو، ښاروالیو، دولتي نهادونو، د خصوصي سکتور سواګریز نهادونو او غیر انتفاعي مؤسسو او نورو اشخاصو ته د قراردادونو له مخې اجناس، مواد، خدمتونه او ساختماني خدمات وړاندې کوي، د عایداتو د مالیاتو پر ځای د ۷ په سلو کې ثابتې مالیې تابع کیږي.
هغه اشخاص چې د فعالیت جواز لري اویادو شوو نهادونو ته پورتني خدمتونه وړاندې کوي پر قرارداد باندې ۲ په سلو کې مالیې تابع کیږي.
دغه مالیه د راتلونکو مالیاتي مکلفیتونو په وړاندې اعتبار لري.

دغه مالیه قراردادي ته د ورکړې وړ ناخالص مبلغ څخه وضع کیږي.

## په نندارو (نمایشونو) باندې ثابته مالیه (۷۳)

په نندارو باندې ثابته مالیه د افغانستان په میشتو حقیقي اشخاصو او غیر میشتو حقیقي او حکمي اشخاصو باندې چې سرګرمي پروګرامونه لکه تیاتر، ننداری، راډیو، ټلویزیون، موسیقي یا ورزش وړاندې کوي،

د تطبیق وړ ده. ددې فعالیتونو عواید د ټکټونو د پلورلو ۱۰ په سلو کې کیږي. ثابته مالیه د عایداتو باندې مالیې او انتفاعي مالیې پر ځای وضع کیږي. ثابته مالیه په میاشتنی شکل د ورکړې وړ ده او نه باید د راتلونکې میاشت د پنځه لسمې څخه وروسته ورکړل شي. که چیرې یاد شوي ننداري دوام لرونکې نه وي، مالیه باید تر دهرې ننداري د سرته رسونې سره سم ورکړل شي.

نور اشخاص چې سرګرمي او تفریحي خدمتونه وړاندې کوي د عایداتو باندې مالیې او انتفاعي مالیې تابع کیږي.

د کوچنیو سوداګریو ثابته مالیه (۷۴ او ۷۵ مادې)
حقیقي اشخاص چې سوداګریز فعالیتونه ( لکه دکانداري، او نور کوچنې سوداګریز فعالیتونه چې تفصیلي سوابق له ځانه سره نه ساتي) ترسره کوي، د خپلو ناخالصو عوایدو د مبلغ سره سم طبقه بندي او په دې ترتیب ټاکلې ثابته مالیه ورکوي.

د ثابتو مالیو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره ۱۹ لارښود (په اقتصادي فعالیتونو باندې ثابته مالیه) ته مراجعه وکړئ او یا د عوایدو لوی ریاست یا مستوفیتونو ته مراجعه وشي.

## نور فیسونه

د مالیې وزارت د هغه فیس اخیستل پلی کوي چې د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتون قانون کې شامل نه دی. دغه فیس د الوتنو له فیس څخه عبارت دی چې د نړیوالو الوتنو لپاره ۵۰۰ افغانۍ او د کورنیو الوتنو لپاره ۵۰ افغانۍ دی.

د مالیاتو اداره، د بررسۍ او د قانون د پلي کولو احکام او نور اداري موضوعات
د لویو مالیه ورکوونکو اداره(LTO)
د لویو مالیه ورکوونکو دفتر د لویو مالیه ورکوونکو یوې ځانګړې ډلې ته دخدمتونو دعرضه کولو په موخه جوړ شوی دی. په دغه د فتر کې دمالیه ورکوونکو د ثبت او هغوې ته دخدمتونو د عرضه کولو معیارونه په لاندې ډول دي : کلنۍ دوراني سرمایه ، د مالیې وزارت عوایدو ته خطره، د ابتدایي سرمایې اندازه او د سودا ګریز فعالیت ډول.

### یادونه

۷۱ ماده (د صادراتي مالونو ثابته مالیه) ۷۵ ماده (د ژرندو او غوړو ویستلو او ګنیو ماشین الاتو باندې ثابته مالیه) ۷۸ (د ډاکټرانو ثابته مالیه) ، ۸۰ (د کار او فعالیت ځای څخه پرته اشخاصو باندې ثابته مالیه) او ۸۱ (د کمیشن کارانو او دلالانو ثابته مالیه) د ۱۳۸۴ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون څخه حذف شوی دي. هغه مالیه ورکوونکي چې د داسې مالیو تابع کیدل اوس پر کوچنیو سوداګریزو فعالیتونو باندې د ثابتې مالیې یا کلنیو عایداتو باندې د مالیې تابع کیږي.

د لویو مالیه ورکوونکو په اداره کې د مالیه ورکوونکو ثبت کېدل د مالیه ورکوونکو لپاره ډېرې ګټې لري. د عوایدو د ریاست زیات شمېر کارکوونکي د لویو مالیه ورکوونکو د اړتیاؤ د پوره کولو لپاره په څو ژبو (دري، پښتو او انګلیسي) او د زیاتو ټلیفوني او انټرنټي اړیکو او شخصي کتنو له لارې د ښو خدمتونو وړاندې کولو فرصت لري.

د لویو مالیه ورکوونکو اداري پروګرام همدارنګه د مالیه ورکوونکو او د هغوئ د سوداګریز یا صنعتي سکتورنو اړوند خاصو کارکوونکو لپاره د معلوماتي او تعلیمي پروګرامونه وړاندې کول په بر کې نیسي.

د لویو مالیه ورکوونکو اداري پروګرام د عوایدو د ریاست د کارکوونکو خاص غوره کونه او روزنه په بر کې نیسي چې روزنه یې تر ډېره کچه د مالیه ورکوونکو سره په مسلکي توګه برخورد کولو، ځواب وینې او ښې رویې کولو برخه کې تاکید کوي.
د لویو مالیه ورکوونکو اداره په کابل کې د عوایدو په لوی ریاست کې موقعیت لري چې په هرات، او، بلخ مستوفیتونو کې ځانګې لري. د عوایدو لوی ریاست په پام کې لري ترڅو دا پروګرام جلال آباد، کندوز او نیمروز ولایتونو ته وغځول شي چې ددې پروګرام له مخې به په ټول هیواد کې لوی مالیه ورکوونکي تر پوښښ لاندې راوستل شي. .

## د منځنیو مالیه ورکوونکو اداره (MTO)

په دې اداره کې د ګډون معیارونه د لویو مالیه ورکوونکو د اداري د معیارونو ته ورته دي خو د پام وړ عواید پکې ښکته دي. لاندې کټګورۍ د منځنیو مالیه ورکوونکو په اداره کې شاملیږي:

- هغه تشبث چې عواید او یا ابتدائي سرمایه ئې د لویو مالیه ورکوونکو د اداري لپاره کافي وي خو د عوایدو یوه برخه یا ډېر ئې معاف وي
- هغه نهادونه چې د بیلانس په وړاندې کولو مکلف وي
- سیاسي او یا نړیوالې نماینده ګۍ
- غیر دولتي ښوونیز او صحي نهادونه
- بهرني تشبثات
- ناراجستر شوي خصوصي تشبثونه او یا حقوقي نهادونه چې د کلنیو عوایدو سرجمع ئې له ۵ میلیونو افغانیو زیات او یا ابتدائي سرمایه ئې له ۱۵ ملیونه افغانیو زیاته نه شي.

موخه داده ترڅو د لویو مالیه ورکوونکو د اداري په څیر خدمتونه په ډیرو مالیه ورکوونکو باندې تطبیق شي او په عین حال کې دولت ته د عوایدو جریان زیات کړل شي.

د منځنیو مالیه ورکوونکو اداره د ملي بس تصدۍ په ودانۍ او بله اداره یې هم د هرات په مستوفیت کې موقعیت لري په پام کې ده چې د منځنیو مالیه ورکوونکو اداري به په راتلونکې کې په ولایتونو کې هم تاسیس شي.

## مالیاتي فورمې او لارښوونې

د مالیاتي اظهارلیکونو، د مالیاتي اظهارلیکونو د بشپړولو د لارښوونو او د نورو لارښودونو بیلګې په http://www.ard.gov.af ویب پاڼه کې د پیداکیدو وړ دي. مالیاتي اظهارلیکونه د لویو مالیه ورکوونکو او منځنیو مالیه ورکوونکو ادارو څخه ترلاسه کیدای شي.

## د مالیه ورکوونکي د اسنادو بررسي

د عوایدو ریاست د مالیه ورکوونکي سندونه په منظم ډول بررسي کوي تر څو د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون کې د یادې شوې خپل مالیې ارزونې طریقې له مخې د دقیقو مالیاتي اظهارلیکونو د وړاندې کولو او سمو ورکړو ترسره کول یقیني کړل شي. د مالیاتي اسنادو د بررسۍ کچه په څو فکتورونوپورې اړه لري. معمولاً د اسنادو بررسي په هغه مهال کې چمتو کیږي چې د مالیه ورکوونکي او د عوایدو لوی ریاست لپاره مساعد مهال وګڼل شي ترڅو د مالیه ورکوونکي په کار کې د مزاحمت راوستلو کچه راکمه کړل شي. هر ډول غلطي او یا اړین اصلاحات د بررسۍ په پای کې تر بحث او څیړنې لاندې نیول کیږي او په اړه یې توافق صورت مومي.

## تطبیقي احکام (14 او 16 فصلونه)

د مالیه له درکه لاسته راغلي عواید حکومت ته د افغانستان وګړو ته د اړینو خدمتونو لکه ښوونه او روزنه، روغتیا، اقتصادي بنسټ او ټولنیز تامینات په وړاندې کولو کې توان وربخښي. هغه مالیه ورکوونکي چې د خپلو مالیاتي مکلفیتونو (د شرکت نه ثبتول او راجسترول، د مالیاتي اظهارلیکونو نه ډکول او د مالیو نه ورکول) په وړاندې بې پامه دي په حقیقت کې هغوی خپلو خلکو او هیواد ته فریب ورکوي.

د عوايدو لوی رياست د قانون پر بنسټ مکلف دی تر څو يوازې د دولت په واسطه نافذ شوې ماليه ترلاسه کړي او د هر ماليه ورکوونکي ماليه وټاکي. د عوايدو لوی رياست دفترونه او کارکوونکي د ماليې وزارت د مقام استازي دي او په هماغه ظرفيت باندې دا ډاډ ترلاسه کړي چې مالياتي قوانين په روغ او منصفانه ډول تنظيم او اداره کړل شي تر څو هيڅوک د نورو په نسبت ډيره ګټه او يا ضرر ونکړي.

د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو باندې مالياتو قانون نوی شوی دی تر څو د ماليې وزارت ته د ماليو د تحصيل صلاحيت د قانون تر حکم لاندې فراهم کړي.

- د ماليې ټاکل: د ماليې وزارت د قصدي او غير قصدي غلطيو د تصحيح په موخه د ماليو ټاکل تعديلوي. د ماليې وزارت که چيرې د عوايدو په اړه هيڅ ډول مالياتي اظهارليکونه نه وي وړاندې شوي، د عوايدو پر بنسټ تخميني ماليې ټاکي.
- په شتمنيو باندې د محدوديتونو ايښودل: د ماليې وزارت د منقولو او غير منقولو شتمنيو پر پلور، شتمنيو ته د لاس رسي‌ـ او يا د پلور په موخه د جايدادونو مصادره وضع کوي. دا ډول پريکړې د محکمې د منظوريو پر بنسټ ترسره کيږي.
- د آمرينو او د ونډې لرونکو مکلفيتونه: د ماليې وزارت د معينو مالياتي شرايطو لاندې صلاحيت لري تر څو د شرکتونو مالياتي پورونه له آمرينو، ټاکلو ونډه لرونکو او دريم اړخ څخه چې د شرکت څخه د شتمنۍ پوروړي دي، وضع کړي.
- له دريم اړخ څخه د ماليې تحصيل: د ماليې وزارت صلاحيت لري تر څو د يادشوي اړخ څخه چې د ماليه ورکوونکي پوروړی دي د مبلغ د تحصيلولو په موخه حکم صادر کړي (ځيني مهال د دريم اړخ څخه د ماليې د تحصيل د حکم په توګه ياديږي). دريم اړخ پيرودونکي، مالي نهادونه، استخدام کوونکي مراجع، مستآجرين او داسې نور په بر کې نيسي.
- د وتلو د مخنيوي حکم: له داسې حکم څخه عبارت دی چې ذيصلاحو مراجعو ته د هغه شخص چې له ۲۰۰۰۰ افغانيو څخه زيات ماليات ئې نه وي ورکړي، او وغواړي له هيواد څخه ووځي، د هغه د وتلو محدوديت او يا د وتلو د مخنيوي د وضع کولو حکم صادر کړي.
- په موقتي ډول د شرکت تړل: که چيرې يو شخص په ټاکلي وخت د اظهارنامو په ارايه او د ماليوپه ورکړه او يا د ماليو په وضع (پر

کرايې باندې ماليه، پر معاش باندې ماليه، د ونډې ګټه او داسې نور) نه برياليږي، ياد شوی شخص د مالياتو تر ورکړې پورې د شرکت د تړل کيدو تر حکم لاندې راځي.

- د جواز نه صادرول: که چيرې اشخاص خپله د ذمت ماليه ور نکړي، د ماليې وزارت نور وزارتونه او د دولتي ادارې چې د جواز د صدور صلاحيت لري، خبروي تر څو د يادو شوو اشخاصو جواز تمديد نکړي. نور وزارتونه او دولتي اداري يواځې هغه وخت کاري جواز نوي کوي چې د ماليې وزارت څخه داسې سند ترلاسه کړي چې په کې ښودل شوي چې ياد شوي شرکت خپل مالياتي مکلفيتونه ترسره کړي دي.

پر عايداتو باندې د مالياتو قانون همدارنګه د اضافي ماليو او جريمو په پلي کولو حکم کوي. دارنګه تدابير د ځينو حالاتو لاندې تطبيقيږي چې لاندې ټکي په بر کې نيسي:

- د اسنادو نه ساتل او د تشبث دفترونو او اسنادو ته د لاسرسۍ نه کيدل (۱۰۱ ماده)
- د اظهارنامو په ډکولو او ارايه کې پاتې راتلل (۱۰۲ ماده)
- د ماليو څرنګه چې لازم دی نه وضع کول (کرايه، د ونډې ګټه، تکتانه، حق الامتياز، مزد، معاش، کميشن او داسې نور) (۱۰۳ ماده)
- د ذمت ماليه نه ورکول (۱۰۴ ماده)
- د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر د ترلاسه کولو لپاره غوښتنه نه کول (۱۰۵ ماده)
- عايداتو باندې مالياتو څخه تيښته ۹۸ ماده)
- هغه جرايم چې د مالياتو د ادارې وګړي ئې د محرمو رازونو دڅرګندولو او د خپل دريغ څخه د ناوړه ګټه اخيستنې په پايله کې مرتکب کيږي ۱۰۷ ماده)

## د ماليې د ورکړې د تاخير جريمه

که چيرې يو شخص خپله د ذمت ماليه په ټاکلي نيټه ور نکړي، ياد شوی شخص په ورځ کې د ذمت د ماليې ۱۰،۰ په سلو کې اضافي ماليې تابع کيږي (۱۰۰ ماده).

## د ټاکلي حد څخه د زياتې ماليې ورکول

که چيرې د ماليې وزارت اظهارليک ته د رسيدنې وروسته، د بيرته

ورکړې ادعا، د حد څخه زیاتې ورکړې او یا د محکمې پریکړه وړ مومي چې له ټاکلي حد څخه زیاته ورکړه شوې ده، د عوایدو لوی ریاست کارکوونکی چې د دوسیې مسؤل دی، د ګمرکونو له ریاست سره ددې د تائید په موخه چې مالیه ورکوونکی هیڅ ډول نا ورکړل شوی ګمرکي مکلفیت نه لري، اړیکه نیسي. یاد شوی کارکوونکی همداراز ددې په اړه چې آیا نور نا ورکړل شوي مالیات پاتي دي که نه هم تحقیق کوي. له حد څخه زیاته هر ډول ورکړې لومړی د نا ورکړل شوو مالیاتو او یا ګمرکي محصولاتو په وړاندې د مالیه ورکوونکي د مالیاتي چارو پر مخ وړونکې ادارې د غوښتنې پر بنسټ استفاده کیږي، او اضافي مبلغ ئې مالیه ورکوونکي ته بیرته او اعاده او یا د پولي اعتبار په توګه ساتل کیږي (۹۰ ماده).

## نیوکې او عریضې

د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون ۸۹ ماده د هر شخص لپاره چې د مالیې د ټاکلو د یادوونې څخه خوښ نه دي، د ستونزې د هوارې د رسمي پروسې په اړه صراحت لري. یاده شوې پروسه د دریو اجراییوي مرحلو لرونکې ده. لومړی: د مالیې د ټاکلو د یادوونې د تعدیل غوښتنه کوي. دویم: که چیرې یاد شوی شخص د مالیې د ټاکلو له یادوونې څخه خوښ نه وي په هغه صورت کې کولای شي خپله غوښتنه د مالیې وزارت ته وړاندې کړي. د یاد شوي شخص عریضه د عریضو د بررسۍ د یو خپلواک پلاوي لخوا بررسي کیږي. دریم او په پای کې: که چیرې یاد شوی شخص د عریضو د پلاوی پریکړه هم ونه مني، نو په هغه صورت کې محکمې ته مراجعه کوی.

د نیوکو او عریضو د پروسې په اړه لا زیات معلومات د عرایضو له څانګې، لویو مالیه ورکوونکو ادارې یا د عوایدو په ریاست یا سیمه ییز مستوفیت کې د منځنیو مالیه ورکوونکو ادارې د دوسیو د تنظیم آمر او یا د (http://www.ard.gov.af) ویبپاڼې څخه ترلاسه کیدای شي.
یاده شوي ویبپاڼه د نیوکو فورمې او عریضې، قانون او د عایداتو باندې مالیې تعلیماتنامه، د مالیې د ټاکنې د یادښت سره سم د ورکړې وړ مالیې په اړه د څیړنې تر نامه لاندې ۱۱ لارښود په بر کې لري.

## د پیسو د الکترونیکي انتقال پروسه

اوس شونی ده چې خپل مالیات د پیسو د الکترونیکي انتقال له لارې ورکړئ. دا پروسه ساده ده او هغه شمیر تشبثونو او موسسو ته چې

محاسبوي او تاديوي دفترونه ئې له افغانستان څخه بهر دي، د اطاعت پذيرۍ زمينه اسانه کوي.
د مالياتي مبلغ(پيسو) د انتقال په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره د پيسو د الکترونيکي انتقال له لياري د ماليې ورکړه تر نامه لاندې ۰۲ لارښود ته د ماليې وزارت په ويبپاڼه(http://www.ard.gov.af) کې مراجعه وکړئ.
تاسې کولای شئ په کابل کې د ماليې وزارت د ماليه ورکوونکو سره د مرستې له ټيم سره اړيکه ونيسئ.

## ګمرکي محصولات

صادر او واردوونکي، د هغه شمير متشبثينو په ګډون چې د خپلو سوداګريزو فعاليتونو په موخه د موادو او جنسونو په واردولو مجبور دي، بايد د کابل يا د خپل فعاليت ځای کې موجود ګمرک سره اړيکه ټينګه کړي.

## په مالياتي ادارو کې اصلاحات

د افغانستان د مالياتي قوانينو څخه د رضاکارانه پيروی د تشويق په موخه، د ماليې وزارت هڅه کوي ترڅو د عوايدو لوی رياست او د ماليې وزارت په نورو بر خو کې اصلاحات رامينځ ته کړي تر څو د مالياتو لا اغيزمنې او د وړتيا لرونکې اداري را مينځ ته کړي. نوی اداره بنائي ماليه ورکوونکو ته د لابنو خدمتونو په وړاندې کولو ټېنګار وکړي ځکه چې عامه پوهاوی او د معلوماتو وړاندې کول د قانون څخه د پيروی بنسټ تشکيلوي.
په عين حال کې د مالياتو د روغ او منصفانه سيستم سره د مرستې په موخه په نړيوالو منل شوو معيارونو په تطبيقي او اجرائي پروګرامونو باندې کار روان دی. تر ټولو اړين دا چې، د ماليې وزارت هڅه کوي تر څو اداري فساد له مينځه يو رته کړي او يوه روغه او حساب ورکوونکې اداره رامينځ ته کړي چې تخصيص شوې بودجه په اغيزمن شکل استفاده کړي. دا پروسه يو اوږد مهالی تعهد دی خو ددې په اوږدو کې چې کومه اداره مينځ ته راځي، د لا ښه والي د مينځ ته راوړلو لپاره به هر اړخيزه هڅې وکړي.

## د شرکتونو د مالياتو اصلاحات

دولت ژمن دی چې افغانستان د پانګه اچوونکو لپاره د توجه وړ ځای وګرځوي چې په دې موخه يې د نړيوالو معياريونو او د ښې عملي جنبې په نظر کې نيولو سره د شرکتونو د مالياتو د اصلاح کار پيل کړی دی.
د ۱۳۸۷ لمريز کال پر عايداتو باندې د مالياتو قانون احکام د چټک استهلاک (د ودانيو لپاره څلور کاله او نورو شتمنيو لپاره دوه کاله) او د

بشپړ ضرر د جبران کولو تر وخت د نامحدود وخت لپاره د ضرر د انتقال په اړه صراحت لري د شرکتونو د مالیاتو د اصلاحاتو اړوند نور اقدامات کوم چې د پلي کیدو په حال کې دي، په لاندې ډول دي:

- د بهرنیو شرکتونو د مالیه ور نمایندګي ګاڼې د بهرینو شرکتونو د فرعي شرکتونو په څیر د ورته مبنا لرونکي دي.
- د معدن د استخراج کوونکو شرکتونو لپاره مالیاتي مشوق
- د ونډې په ګټنې، حق الامتیاز، ټکټاني او حق الامتیاز او دې ته ورته ورکړو باندې د ۲۰٪ موضوعي مالیه پلي کول
- د نمایندګۍ او غیر مقیم شخص تر منځ د حقیقي لګښت په نسبت مجاز مجرایي
- د اړوند نهادونو تر منځ د عادلانه قیمت ګذارۍ تامینول
- د مالیې د پټونې څخه د مخنیوي په موخه د مالیې د پټولو ضد عمومي کړنلارو پلي کول
- د بهرنیو عوایدو په مقابل کې د بهرنیو ضررونو قرانطین کول
- د لمریز کال څخه پرته د بل مالیاتي کال څخه د استفادې کولو په موخه حقوقي شخص ته اجازه ورکول.

## مالیاتو اړوند مالومات

د عوایدو لوی ریاست اداري او مستوفیتونه مالیه ورکوونکو ته په وړیا توګه فورمې، لارښودونه او لارښووني وړاندې کوي چې دا مواد په چاپ شوي او همداراز له یوه نوي ویب پاڼې http://www.ard.gov.af څخه د راښکته کیدو وړ بڼو ترلاسه کیدای شي. یاده ویب پاڼه د عوایدو د لوی ریاست او مستوفیتونو موقعیتونه، د اړیکو شمیرې او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندې کوي. مالیه ورکوونکي همداراز کولای شي نور ګټور مالومات لکه عامې خبرتیاوې او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي مالیې په اړه پوښتنې او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون، او تعلیماتنامه ترلاسه کړي. یاده تعلیماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه څیړي او د ګټورو بیلګو په لرلو سره مالیه ورکوونکو ته لا ډیره آسانتیا په برخه کوي.

### یادونه

یادونه: د http://www.ard.gov.af په ویب پاڼه کې د مالیه ورکوونکي اړوند معلوماتو د پاڼې شتون مالیه ورکوونکي ته د ګټورو او اړینو معلوماتو د ترلاسه کولو کار تر ډیر کچه اسانه کړی دی. په دې پاڼه کې مالیه ورکوونکی کولی شي د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون، بیلابیلې عامه خبرتیاوې، کړنلارې، فورمې، لارښودونه، ارشیف شوي سندونه، د معاش د موضوعي مالیې اړوند پوښتنې او ځوابونه او داسې نور معلومات ترلاسه کړي. همدارنګه پر عایداتو باندې د مالیاتو لارښود کتاب (تعلیماتنامه) هم شتون لري چې په هغې کې د قانون هره ماده او مقررات د ګټورو مثالونو څخه په ګټې اخیستنې په جلا توګه تشریح شوي ده.

001E 01 03 2012


جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۱

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1391
*www.ard.gov.af*

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیې وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۱